# A برخه:لاربنوونې ته ترقي ورکول
## څلورم لوست یا درس: د لاربنوونې طریقي او روشونه

**د زده کونکو د زده کړې موخي یا هدفونه**:

په دي لوست کي لاربنووني به د لاندې موخو یا هدفونو د قبولیت او فهم سبب شي
1. د رهبرئ د تګلارو د اصطلاح ګانو تعریف
2. د رهبرئ د پنځه روشونویا تګلارو دبیلګو تشخیص
3. د توانونو درک او پوهه(ښیګنو) او ستونزي(ننګوني) د یوفرد عمده د رهبرئ روش یا تګلاره.

**د لوست ورکولو لپاره توصیه شوی وخت یو ساعت**

## وړاندیز شوي منابع: لاندې منابع په دي لوست کي ګټوري واقع کیدلی شي.


Lussier, Robert N. and Achua, Christopher F. *Leadership: Theory, Application, Skill Development*. Cincinnati, Ohio: South-Western Publishing, 2001.
Northouse, Peter G. *Leadership: Theory and Practice, 2nd edition*. Thousand Oaks, California: Sage Publications, 2001


## د وسایلو، لوازمو او اړتیا وړ موادو لست یا لړلیک

- د لیکنې ښودونکې ( تخته )
- د پاورپواینټ لپاره پراجکتور
- د پاورپواینټ سلایدونه
- د خلکو نما یاښکاره کول ( د خلکو انځورونه )
- د زده کونکو د کاري ورقو کاپي ګاني
- تشي یا خالي سپیني ورقي

اصطلاح ګاني: لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست کي په بولډ او ایټالیک شکل سره وړاندې شوي دي.

- **دمشرئ یا رهبرئ تګلاري**

**په په زړه پورې تګلاره :**
ټولګي په دوه ګروپونو چې له پنځه نفرو نه زیاتوالی ونه لري، وویشئ او 4-1 Ws ټولو زده کونکو ته توزیع کړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:**تاسې وغواړئ چې دا پروژه تاسې او ستاسې ټیم به بشپړه کړي. او کله چې تاسې ته ویل کیږي، نو لوست وڅارئ کوم چې په 4-1 Ws کي ځای لري هغه د زده کونکو لپاره ولولئ، د کومي پوښتنې د شتوالی په صورت کي هغه ځواب کړئ، او وروسته لوست پیل کړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:**لکه څرنګه چې کولی شې وګورئ، چې کومه خوراکه پخولی شې، څه کولی شې واخلي او نور. دا ټول تاسې او ستاسې ټیم سرته رسولی شي. آیا د دندې په اړه مو کومه پوښتنه شتون لري؟پیل! له ۱۵ دقیقو نه وروسته ۵ دقیقي اضافه وخت ورته ورکړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** تاسې د وظیفي یا دندي د تشخیص لپاره پنځه دقیقي اضافه وخت لرئ له ۲۰ دقیقو نه وروسته د وخت پای اعلان کړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:**وخت پای ته رسیدلی دی
له زده کونکو نه د راپورونو غوښته وکړئ چې عبارت دي له د پیرودني لست، مینو، مهال ویش، او نور لستونه دي د هغې غوښته وکړئ او هغه رول چې هر یو زده کونکی یي لري سرته ورسوئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** آیا هر یو له ګروپونو نه د پیرودني لست، خوراکي لړلیک، مهال ویش او نور تاسې ته سپارلی دي، همدارنګه هریو له ګروپونو نه د رول او نقش ځانګړی راپور سرته رسولی شي چې تاسې ته یي تسلیم کړي. د دي لپاره چې د ټول ټولګي سره معلومات شریک کړل شي نو یو له ګروپونو نه وټاکئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** د مهربانۍ له مخې له ټولګی سره معلومات شریک کړئ. کله چې ټولو ګروپونو له ټولګی سره معلومات شریک کړل لوست ته ادامه ورکړئ او د لومړی موخې تعریف پیل کړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** داسې فعالیت به تاسې ته اجازه درکړي چې خپل ځانته په یوه ټولنه کي په یو واقعي موقیعت کي ځآی ورکړئ او وګورئ چې په څه ډول تاسې د نورو تر تاثیر لاندې قرار لرئ. آیا هغه نوټونه چې اشخاصو په هریو ګروپ کي کارولی یادداشت کړي مو دي؟ له زده کونکو څخه د ورکړو شوو موادو په هکله پوښتنه وکړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** دا ددي لپاره دي چې مونږ هریو د مختلفو کړنو لرونکي د نورو د هدایاتو او لارښونو لپاره یو یا په بل عبارت سره مونږ د مختلفو روشونو په لرلو سره رهبري کیږي.
تاسې باید هغه نقش او رول چې د شپي د خوارکي په پلان کي ولرئ، په نظر کي ونیسئ داسې چې مونږ به رهبری تعریف کړو.

# دمحتویاتو لنډیز او د لوست ستراتیژي

## لومړۍ موخه یا هدف: د رهبرۍ د روښي اصطلاح ګانوتعریف

## د آټکل وړ پوښتنه: د رهبرۍ روشونه یا تګلاري کومي دي؟

له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي خپل کتابچي له څانه سره ولري او د رهبرۍ د روشونو یا تګلارو تعریف یاد داشت کړي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** کتابچي مو په لاس کي ولرئ. داسي چي مونږپورته بیان کړه چي اشخاص د مختلفو تګلارو د هدایاتو او لارښونو لپاره دی.

د مهربانۍ له مخي ٦٠ ثانې تاسي خپله د رهبرۍ د روشونو د تعریف لپاره تیري کړئ. پیل

له ٦٠ ثانیو نه وروسته آیا زده کونکي حاضر دي چي خپل تعریفونه په ټولګي باندې وویشي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل** د مهربانۍ له مخي خپل لوست پای ته ورسوئ داچې وخت پای ته رسیدلی دی که چیري د ټولګی سره د تعریف په شریکولو کي یاستۍ خپل ځان اوچت کړئ. ځنیو تعریفونو ته په غوږ نیولو سره لاندې تعریف ته منتقل شئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** غوره تعریف به هغه تعریف وي چي د نن ورځي له تعریف سره مطابقت وکړی. د مهربانۍ له مخي د رهبرۍ د روش تعریف کوم چي مونږ نن ورځ بیان کړي یادداشت کړئ .

Tm 4-1 ( د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)

I د رهبرۍ د روشونو تعریف کول.

A. د رهبرۍ روشونه هغه کړني دي چي مشران یا رهبران هغه سرته رسوي

B. داسي چي رهبران د هغې د ارزښت مطابق عمل کوي.

کله چي بیان پای ته ورسید. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي د رهبرۍ د ځنیو روشونو په باره کي چي په ژوندانه کي شتون لري فکر وکړئ او هغه په عامه بورډونو کي ولیکئ. ځني بیلګي لکه:تحصیل، میرانه، قاطع او نور به وي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** له هغه تعریف نه ګټه واخلئ چي لیکلی مو دی .

په دي باره چي د رهبرۍ روشونه کوم او په څه ډول دي فکروکړئ.

کله چي تاسي په دهکله د مفکوري لرونکي یي ځان اوچت کړئ او بیان کړئ او مونږ به ستاسي ویناوي په تخته ولیکو. د توزیع پنڅه بیلګي یادداشت کړئ او وروسته لوست ته ادامه ورکړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** تاسي یوه عالی دنده چي عبارت ده له د ژوندانه شتون لرونکو روشونو په باره کي فکر کول، سرته رسولی ده. د رهبرۍ د روشونو تعریف په یاد کي وساتئ داسي چي مونږ به د رهبرۍ روشونه طبقه بندي کړو.

## دوهمه موخه یا هدف:د رهبرۍ د روشونو د پنځه بیلګو تشخیص

## **آټکل شوی پوښتنه:** د رهبرۍ پنځه روشونه کوم دي؟

ټولو زده کونکو ته 2-4 Ws وویشئ. او د بشپړکولو لپاره يي پنځه دقیقي وخت ورکړئ
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** هر یو له تاسو څخه د ارزیابۍ د بشپړ کولو لپاره پنځه دقیقي وخت لرئ. له پنځه دقیقو نه وروسته، چک کړئ چي آیا ټولو زده کونکوعمل سرته رسولی دی. او وروسته لوست ته دوام ورکړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل** : په احتمالي ډول سره تاسي فعالیت تکمیل کړی دی. څرنګه چي داسي تمرین تاسي سره د رهبرۍ د روشونو په تشخیص کي مرسته کولی شي.
زده کونکي نظر د هغوي د غوښتو سره سم په بي شمیره ګروپونو باندي تقسیم کړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** په یاد ولرئ چي ټول غوره روشونه وي او یو له بل نه مهم نه وي .
د A اي ګروپ د تاق په چپ لوري کي شاته، د بي B ګروپ شاته په ښي لوري کي، سي C ګروپ د ټولګی په میدان کي به وي، ډي D ګروپ د چپ لوري مقابل کي، ئي E د ښي لوري په مخکې ځای کي وي زده کونکي باید په چټه خوله حرکت وکړي او خپل کتابچي د خپل ځان سره ولري. کله چي زده کونکي ګروپونو ته انتقال شو نو ګروپونو ته علامه اونښاني وښایاست
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل** : تاسي یوځآی له ګروپ سره دري وروستۍ دقیقي د دري صفتونو د پوهیدلو لپاره یا د رهبرۍ د روش د ځانګړتیوب لپاره تیري کړئ او د رهبرۍ د روش په باره کي یو مشهور شخص فکر وکړي. له پوښتنو نه د لارښود په حیث استفاده وکړئ. پیل وکړئ.

د زده کونکوپه اطرافو کي قدم ووهي ترڅو مطمین شۍ چي هغوي د سرته رسونې په حال کي دي د اړتیا په مهال د رهبرۍ له لاندې روشونو نه استفاده وکړئ. وګورئ چي آیا ټول ګروپونه په دري دقیقو کي په سرته رسونه قادر دي. که چیري ځواب هو وي لوست ته دوام ورکړئ ، آیا هریو ګروپ تاسي ته راپور تسلیم کړی دی؟ او وروسته لوست ته دوام ورکړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** تاسي د رهبرۍ په روشونو کي ډیر عالی داخل شوي یاست اګر چي تاسې هغه نه دي درک کړي. د مهربانۍ له مخې د بیا لپاره خپلو سیټونو ته وګرځئ د رهبرۍ د روشونو په نامه نوټ له ځان سره ولرئ او ځني ځانګړتیاوي یا صفتونه د هریو زده کونکی لپاره تشریح کړئ.
د هریو زده کونکی لپاره 3- WS 4 توزیع کړئ. او 2-4 Tm او د پاورپواینټ ۳ ، ٤ ، ٥ ، ٦ او ۷ شمیري سلایدونه په ګوته کړئ.
**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** تاسي به د رهبرۍ د روشونو د هریو نوم اوصفات پیداکړئ. او یومهم ستوری د مهم عنوان په څنګ کي دځان لپاره کیږدئ راځي چي یو له بل سره په دي معني داخل شود مهربانۍ له مخې هغه نوټ چي په لوست کي به راشي، ولیکئ.
د زده کونکو سره د رهبرۍ د روشونو په باره کي خبري اتري وکړئ او لست کړل شوي بیلګي هغوي ته توزیع کړئ تاسي د زده کونکي د پوهې او دلچسپۍ له مخې د هریو روش لپاره د بیلګو لست کولو ته اړتیا لرئ. له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي آیا هغوي کوم روش د عمده روش په حیث ټاکلی دی او د هغې تعریف د لاس په اوچتولو سره بیان کړي
II. د رهبرۍ د روشونو د پنځه بیلګو تشخیص(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)

A. په **قدرت** سره خپل لاس اوچت کړئ که چیري تاسې د اي A روش منتخب کړی وی

1. صفات
a. د قدرت په ځنګ کي(د قدرت په لټه کي)
b. د هدایاتو او لاربنوونو په لټه کي، د شخصي شهرت په کوښښ کي
c. کنټرول او مقام اساسي موخه او پورته کاري درجې ته ځای ورکول.
d. شاید چي خپله کامیابي په پیسو کي پیدا کړي.
2. مثالونه یا بیلګي :

**(پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

B. **زیبایی**(ښکلا): خپل لاس پورته ونیسئ که چیري ښکلا ستاسي روش وي.

1 . صفات
a. د ښکلا په لټه کي، بي مثله والي، عالی غږ(ښه اواز دلودل)
b. فیشن له کړني یا عمل زیات مهم پیژندل
c. په خپل بسیا، ځان منل
d. سلیقه ،ظاهر او ظرافت ته ترجیع ورکول

مثال یا بیلګه:

**( پاور پواینټ 5 شمیره سلاید)**

c. **اجتماعی** : خپل لاس اوچته ونیسئ که چیري اجتماعي ستاسي د علاقې وړ روش وي.

1. صفات
a. د طرف دوستي یا پلوي کول(پلوي خوښه ګڼل)
b. د نورو د خوشالتیا لپاره نګران کیدل(دبشرملګرتیا)
c. د شخصي عایداتو د کسب کولو لپاره مخکې له دې چي لومړي د نورو سره مشوره ونه کړی عمل نه کول.
d. د نورو خلکو د ویري د حس نه درلودل.

مثال یا بیلګه:

**( پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**

D. **پوهه او تحصیل**: خپل لاس اوچت وساتئ که چیري D ستاسي د علاقي وړ روش وسي .

a. پوهه او تحصیل د ټولو فکرونو څخه باارزښته پیژندل.
b. زده کول مهم دی له دي کبله پوهه قدرت دی.
c. ساینس، نځآ، اصولو او شخصیت ته ارزښت قایل وي
d. مستقیل او غیر احساساتي: د نورو په ناکامی کي ستړی او ستومانه

مثال یا بیلګه:

**( د پاورپواینټ ٧ شمیره سلاید)**

E. **کاردان(کارسرته رسول)**: خپل لاس اوچت ونیسئ که چیري داسې روش ستاسي په زړه وي.

1. صفات
a. عمل کونکی،له لاربنوونو څخه استفاده کول، په تاثیر او اثراچول.
b. د پوهي نه استفاده نه کول په دي باندې دپوهیدو په صورت کي چي د استفادي وړ، ویو د درجي وروسته، د دیدن زده کړه خوښ نه ګڼل
c. شاید چي خسیس او ځان خوښونکی په نظرراشي.
d. ژوند سخت دی باید چي کارکونکي ووسو.

مثال یا بیلګه:

له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چي آیا هغوي وروسته د دي ټولو تشریحاتو له اوریدو او فهم نه سوال لري. کله چي پوښتنو ته ځواب ورکړل شو. آیا زده کونکو د رهبرئ د یاد لرلو په خاطر پنځه سمبولونه انځور کړي دي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: په دوه دقیقو کي یو هغه سمبول چي له تاسي سره د رهبرئ د روشونو په یادلرلو کي مرسته کوي انځور کړئ.

وخت پای ته رسیدلی دی آیا ډیری زده کونکو د هر یو روش او یا طریقي لپاره یو سمبول رسم کړی دی

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: که چیري غواړئ هغه تصویر چي مو انځور کړی دی په ټول ټولګی کي تقسیم کړئ خپل لاس اوچت کړئ.

کله چي تاسو سمبول ټولګی ته په ګوته کړی وروسته موخي یا هدف ته مراجعه وکړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: د رهبرئ دا سمبولونه او روشونه په یاد ولرئ.

داسي چي د ستونزو قدرتونه د هرروش باندې په پوه شی.

## دریمه موخه یا هدف: د توانایي یا قدرت درک او پوهه او درهبرئ د روشونو عمده ستونزي

**د وړاندوینې وړ پوښتنه** : د رهبرئ د روشونو ستونزي او توانایي کومي دي؟

له زده کونکو څخه غوښتنه وکړي چي خپلو ګروپونو ته وګرځي. هریو ګروپ ته مو چي سپین کاغذ توزیع کړی چي وکولی شي خپل د ترقی راپور ولیکي. او هغه ګروپ ته چي ستونزه ولري مرسته وکړئ ترڅو د څلورو دقیقو په موده کي تکمیل کړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: اوس چي مونږ په ټولو روشونو باندې پوه شو نو د مهربانی له مخي خپلو په زړه پوري ګروپونو ته لاړشی او دري توانمندئ او دري ستونزي چي ستاسي ټاکنیزه روش لري تشخیص کړئ.

خپل نظر او مفکوره په خالي کاغذ کي ولیکئ او هغه ټولو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.

څلور دقیقي وخت لرئ. پیل

وخت پای ته ورسید آیا زده کونکو خپل نظرونه تسلیم کړي دي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**:له ګروپونو څخه هریو د نظرونو لپاره چانس لري.خپل لاس باید ونیسئ. کله چي ټول زده کونکي مخکې راغلل له زده کونکو نه وغواړئ چي په خپلوځایونوته لاړ شي او نوټ واخلي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: خپل سیټ ته لاړشئ چون مونږ ځني له توانایي او د رهبرئ دروشونو د ستونزو نه نوټ واخلي.

کله چي زده کونکي په خپل ځای کي کښیناستل. له زده کونکو نه غوښتنه وکړئ چي نوټ یادداشت کړي او له 3 – 4 Tm او پاورپواینټ له ۸ ، ۹ ، ۱۰ ، ۱۱ او ۱۲ شمیرو سلایدونو نه استفاده وکړئ.

III. د رهبرئ د ننګونو او توانایي په هریو باندې پوهیدل

( د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)

پ. قدرت

1. توانمندئ

A. موخي يا هدفونه په روښانه توګه بيانول يا ديدن

B. مقام او شخصيت ته احترام

ننګوني:

a. د نورو د احساساتو په درک کولو باندې قادر نه وي

b. د تصاميمو پايلو ته په درک او پاملرني باندې معمولاً قادر نه وي.

## ( د پاورپواينټ ۹ شميره سلايد)

C. زيبايی(ښکلا)

1. توانايی(قدرت)

a. د ښايسته شيانو څخه په ژوندانه کي خوند اخستل.

b. او له هغوي نه ځآرنه کول

ننګوني:

معمولاً د نورو د نظرونو په پلټلو کي وي.

ډيرزيات د شهرت پسي وي.

## ( د پاورپواينټ ۱۰ شميره سلايد)

D. اجتماعی

a. د نورو د سهولت او اسانتيا لپاره کار کول.

b. معمولاً د نورو د غوښتنو لپاره فکرکوي

ننګوني:

د خپل ځآن لپاره تصميم نه نيول(د خپل ځآن په هکله فکر نه کول)

ځوريدل، په هغه صورت کي چي نورو اشخاص زړه سوځونکي نه وي.

## ( د پاورپواينټ ۱۱ شميره سلايد)

# E. دانش(پوهه)

1. توانايی (قدرتونه)

a. فکرکونکي او په زده کړه کي عالي

b. په غير له دې نه چي احساساتي شي د تصاميمو اخستل.

ننګوني:

له نورو نه ستړی او مايوسه مخصوصاً کله چي ويل شوي نظرونه نور قبول نه کړي د تصميمونو په نيولو کي نوروته پاملرنه نه کول.

## ( د پاورپواينټ ۱۲ شميره سلايد)

کاردان(کار کول)

توانايی(قدرت)

د ډيري مسايلو درک کول

دپيسود زيرمه کولو په فکر کي

ننګوني

په احتمالي توګه ځان خوښونه او خسيس معلوميدل

په لړه توګه د پوهي او ټولنې د موخو په نظر کي لرل

کله چي نوټ بشپړشو. نو زده کونکي په دي باندې مجبور دي ترڅو د توانايي د غوره او خاصو روشونو په هکله فکر کول سرته ورسوي او د ننګونو په باره کي فکر کول اود هغې په حل باندې کار وکړئ.

اوس چي تاسي خپلو روشونو، صفاتو، قدرتونو او ننګونو ته متوجه شوئ نو د رهبرئ غوره روش ته پاملرنه وکړئ. غوره توانايي ياقدرت چي د هغي افتخار دی په خپلو کتابچو کي وليکئ او همدارنګه يو له ننګونو نه چي تاسي هغه درک کړی دی او په هغې باندې به کار وکړی ضميمه کړئ. دري دقيقي وخت لری پيل
د تکميل يا بشپړکيدو په وخت کي له ۲ نه تر ۳ پوري زده کونکي وپوښتئ ترڅو معلومات له نورو سره وويشي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: وخت پای ته رسيدلی دی د مهربانۍ له مخې خپل لاسونه پورته ونيسئ او معلومات له نورو سره تقسيم کړئ.

د دې عمل د سرته رسيدو نه وروسته موخي يا هدفونه خلاصه يا لنډيز کړئ او دلوست تکرار ته رجوع وکړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: د هري ورځي دننګونو په باره کي فکر کول معمولاً يعني ننګوني چي په ژوند کي لرو کوم اسان کار نه وي. مخصوصاً کله چي د رهبر د ژوند داسي برخه او يا يو مهم فرد وي. که چيري تاسي کومه نګراني او يا د ننګونو په باره کي سوال چي بايد په هغي باندې کار وکړل شي، لرئ لطفاً له يو هم ټولګيوال (دوست) او يا له ماسره خبري وکړئ ترڅو وکولی شم له تاسي سره مرسته وکړم.

**دلوست تکرار اولنډيز**:د روشونو يا تګلارو د تکرار لپاره له زده کونکو نه د تعريف شوو صفاتو او نورو په باره کي سوالونه يا پوښتني وکړئ که چيري زده کونکی کوم ځواب ورکاوه. نو نظر ذکر شوو روشونو ته خپل ګوتي پورته ويسئ او ځواب ورکړئ. ۱ قدرت، ۲.ښکلا ۳. اجتماعي يا ټولنيز ٤. دانش يا پوهه او فهم٥. کاردان يا کارکول

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**:مونږ يوه لوبه په نامه د (روش ونوموئ) به پيل کړو. يو(ټولګي) کيدي وويل شي او تاسي په مجبوره توګه د هغي په پيژندلو او ويلو د هغې کي ياست چي د کوم روش پوري تړلي دي. د ځواب ورکولو لپاره د لاس د ګوتي پورته کړی.
۱. قدرت ۲. ښکلا ۳. اجتماعي ٤. دانش يا پوهه ٥. کاردان يا کارکول
لاندې صفات ولولئ او زده کونکي يي د ځواب په ورکولو کي مجبوره دي.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** داسې روش د لارښوونې او هدايت په پلټنه کي وي= 1 ځواب
داسې روش د قاتل د ارزښت په پوهه باندې کيږي= 4 ځواب.
داسې روش عبارت دی له د نورو دوست درلودل= 3 ځواب
داسې زيبا يا د ښکلا روش معلوميږي = 2 ځواب.
داسې روش يوازي د عمل کولو په تعقيب سره وي = 5 ځواب

لوست لنډيز کړئ او د پاورپاينټ له ۱۳ شميري سلايد نه د دې لوست د موخو يا هدفونو دتکرار لپاره استفاده وکړئ

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**:تاسې اوس يو حيرانونکی کار سرته ورسوئ. په داسې توګه چي تاسي خلک په يو صالون او يا د يو ښوونځي په لاره او کور کي ګورئ او ورسره روغبړ کوئ په دې باره کي چي هغوي کوم روش د رهبرئ به ولري، فکر وکړئ؛.

**د کارونې مواد**:زده کونکي نورو دري اشخاصو ته د رهبرئ د روشونو په انتقال سره مجبور دي. او پايله بايد چي ټولګي ته راپور کړل شي آيا زده کونکي خپل د رهبرئ روش بل شخص ته تشريح کړی دی.

**ارزيابی(ازمايښت)** : ددې لوست د موخو ياهدفونو د قبوليت او فهم موجب وي د زده کونکولپاره چي د زده کونکو لپاره يوه په ليکلې ښه د امتحان نمونه ورسره پيوسته ده.

**د سوالونو د نمونو ځواب**

1. C
2. E
3. B
4. D
5. A

6. د رهبرۍ روشونه عبارت د هغه فعالیتونو نه دي چې رهبران هغه سرته رسوي او د هغې د پوهې او درک مطابق فعالیت سرته رسوي.

7. ځواب به مختلف وي.

# د رهبرۍ روشونه

نوم:____________

د رهبرۍ پنځه روشونو ته د هغې د درست عنوان سره مطابقت ورکړئ.
1. قدرت 2. ښکلا 3. اجتماعی 4. دانش(پوهه) 5. کاردان

________ 1. د صفاتو درلودونکی لکه د طرفدارانو دوست لرل، د نورو د اسانتیا لپاره نګران(بشردوست)، د مادیاتو لپاره عمل نه کول مخکې له دې نه چې له نورو سره مشوره وکړل شي، د نورو د وریدني او ترس د حس نه درلودل

_________2 . د صفاتو درلودونکی لکه: عمل کونکی، له لارښوونو نه استفاده وکړئ، دګتورتوب او موثرتوب په هکله په فکر کې کیدل، د پوهې نه استفاده نه کول کوم چې د استفادې وړ نه دی. دلوړې درجې جوړول، د زده کړې برخلاف کیدل، احتالاً ځان خوښونه او خسیس معلومیدل، ژوند ناګواره وي او باید کارکونکي ووسئ

_________ 3 . دصفاتو درلودل: د ښکلا په لټه کې، بې مثله کیدل، عالی آواز درلودل، فیشن د کړنې نه زیاته ترجیح کول، خود کفا خود خواه، د سلیقې درلودل، د غوره ظاهریت او ظرافت ته ترجیح ورکول.

________ 4. د صفاتو درلودل: له ټولو نظرونو څخه د پوهې او تحصیل پورته او بارزښته پیژندل، زده کړه مهمه ده چون پوهه قدرت دی، د نځآ په اصولو او ساینس ته د قاتل کېدو ارزښت، مستقیل او غیر احساساتي، د نورو په ناکامۍ کې ستړی او پریشان.

________ 5 . د صفاتو لرل لکه: د قدرت په لټه کې، د لارښووني او هدایاتو پسې، د خپلې هیا او ابرو ساتنه، کنترول، مقام ته د ساسي یا بنستیزي کاري درجې لاندې ځای ورکړئ. شاید چې کامیابي په پیسو کې پیداکړی.

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.
________6. د رهبرۍ روشونه عبارت دي له:

________7. د رهبرۍ د روشونو دوه بیلګې چې ستاسې له نظره مهمې دي بیان کړئ.

TM: 4-1

# د رهبرۍ د روشونو يا تګلارو تعريف

- د رهبرۍ تګلاري عبارت له هغه فعاليتونو نه دي چي رهبران يا مشران هغه سرته رسوي
- يا د خپلې پوهې مطابق هغه فعاليت سرته رسوي

# درهبرۍ د پنځه نمونو یا بیلګو تشخیص

## ✓د قدرت صفتونه

- ✓ د قدرت پسې(د قدرت په پلټنه کې)
- ✓ د هدایت او لاربښوونې په پلټنه کې، او شخصي شهرت
- ✓ کنترول او مقام بنسټیزه موخه او کاري درجې ته پورته ځای ورکول.
- ✓ شاید چې خپله کامیابي په پیسو کې پیداکړی.

## ✓د ښکلا صفتونه

- ✓ د ښکلا په لټه کې، بې مثله کیدل، عالی آواز(ښه غږ لرل) درلودل
- ✓ فیشن د کړني یا عمل نه زیات مهم پیژندل
- ✓ خودکفا ، ځان خوښونه
- ✓ سلیقه ، ظاهر او ظرافیت ته ترجیح ورکول

## ✓د اجتماعیتوب صفتونه

- ✓ د طرافدارۍ ملګرتیا(ملګرتیا یا طرفداري خوښ ګڼل)
- ✓ د نورو د خوسایني لپاره نګران کیدل(بشردوست)
- ✓ د شخصي عایداتو د لاسته راوړني لپاره مخکې له دې چې لومړی له نورو سره مشوره ونه کړي عمل نه کوي.
- ✓ د نورو اشخاصو د ویریدني او ترڅ دحس نه درلودل

## د پوهې درلودنې صفتونه

- ✓ له ټولو فکرونو څخه پوهه او تحصیل باارزښته پیژني.
- ✓ زده کړه مهمه ده له دې کبله پوهه قدرت دی.
- ✓ د ساینس، اصولو، په پلټلو سره د شخصیت قایل کیدو ارزښت .
- ✓ مستقل او غیراحساساتي: د نورو دناکامۍ له کبله سټرې او ستومانه کیدل

## ✓ د کارکولو صفتونه

- ✓ عمل کونکی، له تاثیر لرونکو او اثر پریښودونکو لاربنوونو نه استفاده کول، .
- ✓ له پوهې نه استفاده نه کول په هغه صورت کې چې په دې پوه وي چې د استفادې وړ نه دي، د درچې پسې، د خوښ نه لرلو زده کړه.
- ✓ شاید چې خسیس او ځان خوښونکی په نظر راشي.
- ✓ زنده ګي سخته ده او باید چې کارکونکي وسو.

# د یوفرد د رهبرۍ د عمده تګلارو د ستونزو او توانايي درک او په هغې پوهیدل

## ➢ قدرت

توانایی : موخې یا هدفونه روښانه بیان کول یا لیدل. مقام او شخصیت ته احترام کول
ستونزي : معمولاً د نورور د احساساتو په درک قادر نه وي معمولاً د تصمیمونو د پایلو ته په درک او پاملرنې قادر نه وي.

## ➢ زیبایی(ښکلا)

توانایی : له ښکلو شیانو څخه په ژوندانه کي خوند اخستل، او له هغوي څخه څارنه کول

ستونزي : معمولاً د نورو د نظرونو په لټۀ کي نه یو. ډیر زیات د شهرت په لټه کي وي

## ➢ اجتماعی(ټولنیز)

توانایی : د نورو د اسانتیا او خلاصون لپاره کار کول. معمولاً دنورو د غوښتنو په اړه فکر کول

ستونزي : د ځآن لپاره تصمیم نه نیول(د خپل ځآنه په اړه فکر نه کول) کړیدل، کله چي نور اشخاص زړه دردیدونکي نه وي.

## پوهه لرونکی

توانایی : فکر کونکی او په زده کړي عالی
په غیر له دي چي احساساتي شی تصمیونه اخلي

مشکلات : مایوس و خسته از دیگران مخصوصاً زمانیکه گفنه هایش را دیگران قبول نمی کنند
زمان گرفتن تصمیم متوجه دیگران نمی باشند.

## ➢ کار کول

توانایی : د ډیری مسایلو درک کول، د پیسو د زیرمه کولو په فکر کي

ستونزي : په احتمالي توګه ځآن خوښونکی او خسیس معلومیدل
کم وختونه د پوهي او اجتماع موخي یا هدفونه په نظر کي درلودل

**څه شی باید سرته ورسوو**

له ماسپښین نه وروسته په ٦:٠٠ بجو تصمیم ونیول شو چې مونږ به شپې ته د ډوډۍ خوړلو محفل ولرو، ستاسي ګروپ د پیرودنې د یو لست په تهیه کولو مجبور وي او تاسې دا لست خریداري کړي د پیسو په اړه نګران مه وسی. دداسې مشق یا تمرین د سرته رسولو لپاره باید پیسې ولرۍ. قول درکوم:

کله چې لست آماده او او پیرودنه سرته ورسیده. تاسي د خوراکي په لړلیک د مختلفو عنوانونو په ټاکنه باندې قادر یاست میز کیږدۍ او خوراکه مصرف کړئ.

د خوراکې د مصرف لپاره تاسې ٤٥ دقیقي وخت لرۍ ترڅو له دې کړنې نه خوند واخلۍ.

له غرمي وروسته په ٩:٠٠ بجو له دوستانو سره یو نوی سینما ته لاړشئ ترڅو له ټولو نوی فلم وګورۍ. خپل ځان مطمین کړئ چې ټولي دندي مو سرته رسولي دي او وورسته د هغوی لپاره یو ستراتیژي جوړه کړئ.

د خپل د خریدارۍ د لست ښودلو ته آماده وسۍ، مهال ویش ٦-٩ پوري له ماسپښین وروسته او د غړو او اشخاصو نوم چې تاسو سره یي په دې فعالیت کي مرسته کړی ده په یاد ولرئ.

کومه پوښتنه:

تاسې د فعالیت د تکمیلولو لپاره ٢٠ دقیقي وخت لري شروع.

# د رهبرۍ د تګلارو فهرست کول(په نښه کول)

په هره برخه کي د X کلمه د غوره بيايي په مخامخ چي تاسي ته تشريح شوی ده کيږدئ ډير حيرانونکی به وي کله چي تاسي خپل په زړه پوري او اخري تصميم ته ورسيږئ. اچر چي، په لومړيو او دهمو مسايلو کي ستاسي د ټاکني لپاره کيدي شي ستونزي پيداشي. يوه درسته علامه د خپل د زړه د نظر ترڅنګل او يوه د دوهمي ترڅنګ(ستونزه) کيږدئ

## نفوذ :

__________ زه له مختلفو ګروپونو سره تړلی يم ولي هغه وخت په دي ګروپونو کي ونډۀ اخلم چي زما لپاره موضوع مهمه وي.

__________ زه په کميټو کي کارکول خوښ ګڼم ولي نه غواړم چي دهغي رئيس وسم

__________ زه په هغه وخت کي نا هيلی کيږم کله چي ګروپ زما خبرو ته غوږ ونه نيسي او په يوازې توګه عمل کوي. او زما وړانديزونه په نظر کي نه نيسي.

__________ زه د ګروپونو د فعاليتونو لپاره يو درست رهبر چي په هغي کي ونده اخلم آټکل کوم.

__________ زه معمولاً د رهبر په حيث ټاکل کيږم په غير له دي چي زه د هغي پسي وسم

## وينا( د منطقي شيانو ويل) .

__________ خلک معمولاً زما نظري نه درک کوي.

__________ زما دوستان وايي ما د مختلفو شرايطو لپاره نوټ اخستی دی.

__________ کله چي زه د خلکو کړنې درستي او يا په هغې باندې ګوت نيوی کوم نو له ما څخه ناراحته او خپه کيږي.

__________ زه هغه شيان چي نور يي ماته وايي په هوښيارۍ سره مطالعه کوم.

__________ له دي څخه مخکي چي زه خلک د خپلو نظرونو په قبلولو سره مجبور کړم، لومړی زه د هغې پسي يم چي په څه ډول هغوي ښه احساس کوي چي وکولی شم خپل نظرونه په هغوي باندې قبول کړم.

## ارتباطات(اړيکي)

__________ زه خلک په هغه وخت کي چي ملاقاتونه يي د غوښتنو څخه زيات وي قبلوم او هغه خوښوم.

__________ خلک ماته وايي چي هغوي له ماسره په ستونزو کي راتلای شي او نه غواړي چي د خپلو کورنيو دغړو سره بحث او وينا وکړي.

__________ زه معمولاً له نورو سره د لايلو او علتونو په باره کي چي غواړم يو عمل سرته ورسوم ذکر کوم.

__________ کله چي يوه وينا د غيره خلکو په مجلس کي د سکوت حالت غوره کړي نو زه د يوي عامي مقالي د پيداکولو په لټه وسم او سکوت يا چوپتيا په دي توګه له منځه وړم يا ماتوم

__________ زه د ځوان نسل او پوخ عمر لرونکی نسل نظرونه تعريف شوي لرم او دهغي په ويلو کي کومه ويره نه لري.

## کړو ژمنو يا وعدو ته رسيدل :

__________ کله چي يو څه غواړم دا غواړم چي ولي يي غواړم، خپل ځآن او د نورو غوښتنو ته پاملرنه کوم.
__________ زه خلکو ته د هغوي د اخري خبري کولو لپاره اجازه ورکوم.

__________ ما ويلي دي چي نظرونه مي کولی شي غوره او ښه معني ورکړي، او ښيګڼي په ښه توګه قبلولی شم.
__________ زه د نورو په وينا باندې يقين لرم اګر چې يوازې د هغوي لپاره ښه او غوره وي.

__________ زه په هغه موضوعاتو باندې ودريږي چي په هغې باندې باور ولرم اګر چي دي موضوع په داخليدو سره داسي موضوع به مشهوره نه وي

## چلندونه:

__________ کله چي نور خلک زما په وينا باندې عمل نه کوي له هغوي نه بي زاره کيږم اګر چې ځني وختونه داسې واقع کيږي چي غوره عمل زما لپاره سرته رسيږي.
__________زه نورو ته د چلندونو د ښودلو په لټه کي وسم داسې چي هغوي دا درک کړي چي زه هغوي ته غوږ نيسم.

__________ زه باور لرم چي وړانديز شوي تحولات قبول کړم او دا تحولات په ياد وساتم.
__________ زه له هغه چاسره چي جوړ نه يم، د زړه په خوښه اړيکي ساتم.
__________ زه د تصميم په نيولو کي دوه زړی کيږم. ځني وختونه زه ډير زيات انتظار وباسم چي ژوند زما لپاره يو تصميم عملي کوي.

## همکاری(مرسته کول):

__________ کله چي خلک په صحيح توګه پوه نه شي. نوزه د هغوي د پوهي په لټه کي وسم.
__________ په کړنه کي، له مزدورکارانو سره يا د ښکته طبقي له کارګرانو سره، زه لټه کوم چي خپل ځآن په ځاي او د هغوي په دنده کي قرار ونيسم او د هغوي په حيث عمل وکړم داچي غواړم هغوي زما خبري عملي کړي.

__________ زه د نورو سره د مرستې په خاطر حاضر يم او نه غواړم چي هغوي په دي حالت کي قرار ونيسي.
__________کله چي زه له نورو څخه معلومات غواړم زه احساس کوم چي زما غوښته په ځآی ده داسي چي زما رئيس په داسي حالت سره عمل کوي.
__________ که چيري رئيس ماته ووايي ماته ډير زيات ووايي – اوهغه اوس غواړم، زه خپل اواز او خبرو ته تغيرورکوم په دي خاطر چي رئيس به زما له کارنه ژر قدرداني وکړي.

### نمره

دوه لستونه ستاسو خوښي له روښونو نه د X علامي په اضافه کولو سره صحيح او په نښه کړئ

| لومړی ټاکنه (X) | دوهمي ټاکنه (X) | مجموع(ټول) | |
|---|---|---|---|
| A شمير | | | Number of A’s |
| B شمير | | | Number of B’s |
| C شمير | | | Number of C’s |
| D شمير | | | Number of D’s |
| E شمير | | | Number of E’s |
| | | | |

# درهبرۍ تګلاري يا روشونه

## قدرت(A)

په برکي لرونکي صفات:د قدرت پسي(د قدرت په لټه کي)، د هدايت او لارښوونو په پلټنه کي، شخصي شهرت، کنترول او مقام بنسټيزه موخه يا هدف او کاري درجې ته پورته ځای ورکول، شايد خپله کاميابي په پيسو کي پيداکړي.

مثال(بيلګه):

## زيبايی(ښکلا)(B)

په برکي لرونکي صفات: د ښکلا په پلټنه کي، بي مثله والی، عالی آواز(ښه غږ لرل)، فيشن له کړني نه زيات مهم ګڼل، په ځان بسيا، ځان خوښونه، د سليقي درلودل، ظاهر او ظرافت

مثال(بيلګه):

## اجتماعی(ټولنيز) (C)

په برکي لرونکي صفات: د پلوۍ طرفدار(طرفداري خوښ ګڼل)، د نورو د اسانتيا لپاره نګران (بشردوست)، د شخصي عايداتو د لاسته راوړني لپاره مخکې له دي چي لومړی د نورو سره مشوره وکړي عمل نه کوي، د نورو اشخاصو د ويري او ترڅ د حس نه درلودل.

مثال(بيلګه):

## دانش(پوهه)(D)

په برکي لرونکي صفات: له ټولو فکرونو څخه د تحیصل او پوهې لوړ منل، مهمه زده کړه ده له دي کبله پوهه قدرت دی، د ساینس، اصولو په پلټلو سره شخصیت ارزښت ته قایل کیدل.
مستقیل او غیراحساساتي: د نورو په ناکامی کې ستړی یا پریشانه

مثال(بیلګه) :

## کاردان(پوه)(E)

په برکي لرونکي صفات: عمل کونکی، له لارښونو نه استفاده کول، په تاثیر او اثر پریښودوسره. له پوهې نه استفاده نه کول په هغه صورت کي چي په دي پوه وي چي د استفادي وړ نه دي، د دجې په پسي، زده خوښ نه ګڼل، شاید چي خسیس او ځان خوښونکی په نظر راشي، ژوند سخت دی او باید کارکونکي ووسی

مثال(بیلګه) :